مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی

۲۰۲۴/۰۷/۰۵

# د ملي محور مشر، ډاکټر روهي:
# زموږ محور؛ د افغان ولس باورونه او ارزښتونه دي




د سیاسي ګوندونو په قاموس کې، د نړۍ لومړنی منظم سیاسي حزب (ولسي ډیموکرات ګوند) دی چې د امریکا دریم ولسمشر، تامس جیفرسن په ۱۷۹۲م کال کې جوړ کړ. بیا دغه لړۍ اروپا او په مزه مزه آسیا او افریقا ته وغزیدله. په افغانستان کې لومړنی مشروطه غورځنګ، ویښ زلمیان، جمعیت وطن او ورپسې د ډیموکراسۍ لسیزې کې بني لاسو او کیڼ اړخو سیاسي ګوندونو وار په وار سر راپورته کړ. د څارونکو په باور، دغه ګوندونه د مارکسیزم، سوسیالزم او اخوانیزم په خم کې رنګ وو او ملي اجندا یې نه وه. د سیاسي، مذهبي، سمتي او سلیقوي ګوندونو دغه بهیر د جمهوریت په شلو کلونو کې بې بریده پراخه شو او د عدلیې د وزارت په چوکاټ کې یې شمیر ۱۰۵ ته ورسید.

په همداسي یو زبینلي چاپیریال کې، د ملي محور په نوم سیاسي ګوند چې مشري یې ډاکټر خوشحال روهي کوي؛ د نسبتا ځواني او تعلیم یافته طبقې د یو شمیر فعالانو له خوا جوړ شو. په داسي حال کې چې طالبانو سیاسي ګوندونه غیرقانوني اعلان کړي او د فعالیت اجازه نه ورکوي؛ نو آیا د احزابو تعدد، د ستونزو په حل کې څه کټه لري؟ آیا ملي محور د نورو ګوندونو په څیر، د ټکر د ټکلاري پلوي دی؟ د دې ګوند ځانګړتیا په څه کې ده؟ د همدې دول پوښتنو د ځواب میندنې د یوې هڅې په توګه مې له ښاغلي ډاکټر روهي سره مرکه کړې چې ستاسو درانه خدمت ته یې وړاندې کوم.

پوښتنه: که په لنډ دول راته ووایې چې کله او د کومې انګیزې پربنسټ مو د ملي محور د جوړیدو تکل وکړ؟
روهي: اټلس کاله وړاندې، د علمي، فرهنګي او مدني فعالیتونو او یو شمیر بنسټونو په جوړولو کې مې ونده درلودله. ولی څه موده وروسته له څینو همفکره ملګرو سره دې نتیجې ته ورسیدو چې دا دول هڅې که څه هم اغیزمني دي، خو افغانستان له رواني غمیزې څخه نه شي ژغورلی. ځکه د هیواد ستونزه سیاسي ده او برخلیک یې داسې کړیو پرغمل کړی چې شخصي ګټو ته تر ملي ګټو لومړیتوب ورکوي؛ نو پریکړه مو وکړه چې باید د سیاست میدان ته راووځو. څرنګه چې په هیواد کې جنګ، جهل، فساد او بلواکي ګورو او غواړو چې وطن او ولس ته نجات ورکړو، نو دلته سیاست په ملي، اسلامي او انساني مکلفیت باندې بدلیږي. لومړی مو د ویښ افغان په نامه یو اصلاحي خوځښت رامنځ ته کړ، بیا مو له یو شمیر نورو خوځښتونو سره د وحدت له لارې افغان ملي غورځنګ تشکیل کړ. د ۲۰۱۶م کال په سپتمبر کې د غورځنګ لومړنۍ کنګره جوړه شوه او د غورځنګ نوم په ملي محور باندې بدل شو.

له نورو سیاسي ګوندونو سره ستاسي د ګوند ځانګړتیا په څه کې ده؟
روهي: موږ ادعا نه کوو چې یوازې د ملي محور غړي د هیواد ملي ګټو ته ژمن دي او د ولس خیر ښیګڼه غواړي. موږ باور لرو چې د هیواد ډیرو بچیانو به په پاک نیت د هیواد د ژغورنې او ولس ته د خدمت ملا تړلې وي، خو له بده


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مرغه د تېر جمهوریت پر مهال زیاتره ګوندونه د قدرت یا ثروت پر محور جوړ شول او مبارزه یې تر ډېره امتیازي، عکس العملي او له تشکیلاتي اړخه فرد محوره وه. همدغې نیمګړتیا ته په کتو سره، موږ د خپل ولس د باورونو، ارزښتونو او ارمانونو پر محور یوې اوږد مهالې ستراتیژیکې مبارزې ته ملا تړلې او هڅکله به د قدرت او امکاناتو لپاره پر اصولو معامله ونه کړو. د جمهوریت له نسکورېدو سره اکثره ګوندونه له منځه لاړل، خو ملي محور نه یوازې له منځه نه دی تللی بلکې تر پخوا لا پیاوړی شویدی. د ملي محور بله ځانګړتیا دا ده چې د فرد محوره رهبرۍ په ځای د ملي کدرونو یوه پیاوړې مجموعه لري او د هېواد د ښېرازۍ لپاره د پوهې، تدبیر او پیاوړي هوډ څخه برخمنه ده. په تېره نیمه پېړۍ کې د ملي نفاق لپاره ډېر کار وشو او د افغانانو ترمنځ کرکې او دښمنۍ ته لمن ووهل شوه؛ اوس د دې وخت دی چې مینې، تفاهم او عدالت ته موقع ورکړل شي او ملي محور دغې تګلارې ته ژمن دی.

افغانان ولې هر سیاسي بدلون له کودتا او ټوپک سره تړلې ګڼي؟
روهي: دا مسئله ګڼ تاریخي، ټولنیز، سیاسي او اقتصادي اړخونه لري. لومړی خو د افغانستان تاریخي او جیو پولیټیک شرائط داسې دي چې په آسیا کې د یرغلونو او فتوحاتو د څلور لارې په توګه د سیمه ییزو او نړیوالو قدرتونو د شخړو او سیالیو ډګر ګرځیدلی دی. پرله پسې جګړو او جغرافیایي موقعیت یې د لویو مدنیتونو او پیاوړو دولتونو مخه ډب کړېده. له خپلواکۍ سره بې کچې مینې افغانان اړ کړي چې د هر یرغلګر پر وړاندې ودرېږي. که څه هم غلیمان یې مات کړي خو ورسره یې د هېواد سیاسي او اقتصادي بنسټونه نړېدلي، د واک خلا، کورنۍ جګړې او اوږد مهاله بې ثباتي رامنځته شوې او دولتونه کمزوري شویدي. نیمه پېړۍ وړاندې د واکمنۍ نسبتاً مشروع چتر ونړېد. د کیڼ او ښي اړخ افراطیت او بهرنیو دسیسو له کبله جګړو او یرغلونو ته لاره اواره  شوه او تشدد او وسله واله مبارزه د سیاسي بدلون یوازینۍ لاره وګرځېدله. پوځي، ایډیالوژیکو، استخباراتي او فرهنګي یرغلونو هېواد کې ژورو اختلافاتو ته لمن ووهله او په پاکستان او ایران کې د افراطیت لپاره منظم کار وشو.
اجنبي ایډیالوژیو، د پیاوړو ملي بنسټونو نشتوالي، د سواد ټیټې کچې، انحصاري نظامونو، جنګسالارانو او قومي ټېکه دارانو د مافیا ظهور او حضور ته زمینه مساعده کړه. همدا دلیل دی چې په دې پنځو لسیزو کې ټول نظامونه د زور له لارې راغلل او د زور له لارې وپرځېدل، خو له بده مرغه اوسنی نظام هم پر پخوانۍ لاره روان دی. که غواړو چې خپل سیاسي برخلیک د زور، کودتا او ټوپک له منګولو څخه خلاص کړو، نو په کار ده چې د ملي ډیالوګ له لارې، ملي پخلاینې، ملت جوړونې، ټولنیز عدالت او د ملي ارادې د تمثیل لپاره یو ډاډمن میکانېزم رامنځته کړو.

د جنګسالارۍ دا کلچر له کومه رامنځ ته شو؟
روهي: په افغانستان کې د قبایلي جوړښت او کمزورو حکومتونو له کبله د پخوا څخه یو ډول ملوک الطوایفي موجوده وه او تل یې د مرکزي واکمنۍ پر وړاندې سرخوږی جوړولو. د شورویانو د یرغل پرمهال او په ځانګړې توګه د ډاکتر نجیب په وروستیو کې د قومي ملېشو جوړولو د جنګسالارۍ کلچر ته لاره پرانیسته. کله چې د ډاکتر نجیب حکومت نسکور شو نو د کورنۍ جګړې پر مهال ملېشو او تنظیمي قومندانانو هڅه وکړه چې خپل سیمه ییز قدرت او واکمني پراخه کړي. دوئ سیمه ییزو اقتصادي سرچینو لکه مخدره موادو، کانونو او ګمرکونو ته لاسرسی پیدا کړ او خپلې ملېشې یې تمویل کړې؛ په پایلې کې یوشمېر بهرنیو هېوادونو ته هم د لاسوهنو او نفوذ لاره هواره شوه. کله چې امریکایانو د طالبانو لومړنۍ واکمني نسکوره کړه نو د بن په کنفرانس کې د افغانستان سیاسي واک د تنظیمي ډلو او قومندانانو ترمنځ ووېشل شو؛ د جنګسالارۍ دود ته قانوني زمینه برابره شوه او همدغه خلک بیا د جمهوریت د سقوط لامل وګرځېدل.

د ملي مقاومت په نوم یوه ډله د طالبانو خلاف په وسله والې مبارزې ټینګار کوي، آیا تاسو ورسره تماس لرئ؟
روهي: افغانستان نور د جګړو تحمل نه لري، جګړه نه یوازې د افغانستان د ستونزو حل نه دی، بلکې کورنۍ جګړو، بهرنۍ لاسوهنې، ملي غمیزې او بشري ناورین ته زمینه جوړوي. موږ شاوخوا ۴۵ کاله جګړې تجربه کړې او نتیجې مو هم ولیدلې. نور باید افغانستان د زور، تشدد او نظامونو د نسکورولو له کرغېړن پیر څخه راووځي. په همدې دلیل


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

موږ نه یوازې د ملي **!؟** مقاومت له ډلې سره، بلکې له هېڅ داسې ډلې سره چې د جګړې لپاره لابي کوي او یا جګړه د حل لار ګڼي، اړیکې او همکاري نه لرو. همدوئ وو چې تېرې شل کلنې جګړې ته یې د یوې پروژې په سترګه کتل او خپلې شخصي او تنظیمي ګټې یې په کې لټولې. موږ د افغانستان پر سالمو ملي ډلو، ټولنو او شخصیتونو غږ کوو چې په زغرده رامیدان ته شي او د هېواد برخلیک نور د زورواکو له منګولو څخه، که واکمن دي یا بېواکه، وژغوري.

تیره میاشت، کابل ته له سفر وروسته په تاسو تور ولګید چې ګواکې د طالبانو لپاره لابي کوئ، آیا خبره همداسې ده؟

روهي: ملکزی صیب، موږ کابل ته د یو ملي مسئولیت او مشخص رسالت لپاره تللي وو. څه باندې یو کال مخکې موږ د افغان نجونو د زده کړو په خاطر یو ملي کمپاین پیل کړ او د ترلو لیکونو، غونډو، ټولنیزو رسنیو او ټویټر/ اېکس سپېس له لارې مو د نجونو د تعلیم لپاره ډېرې هڅې وکړې. پدې لړ کې یو شمېر هېوادوالو بیا بیا غوښتنه وکړه چې موږ د طالبانو له مشرتابه سره مخامخ خبرې وکړو، نو ځکه کابل ته لاړو او د طالبانو ډېر مهم مشران مو ولیدل. له دوئ سره مو په افغانستان کې د ملي ارادې د تمثیل له لارې د یو ټولمنلي نظام د جوړېدو، ملي پخلاینې، لویې جرګې، اساسي قانون، مسلکي حکومت او یوشمېر نورو ملي مسائلو په اړه خبرې وکړې. خو ډېر تمرکز مو په بشري حقوقو او د نجونو د تعلیم او د ښځو د کار پر حقونو وو. زموږ خبرې سپینې او جدي وې؛ تر ډېره زموږ د غوښتنو ملاتړ وشو. خو تاسو پوهیږئ چې د پرېکړې اصلي واک په کندهار کې دی، خو بریالي نه شو چې هلته د دوئ له مشر سره وګورو او د ښوونځیو د پرانیستلو ژمنه ترې واخلو. د هېواد ستونزې باید د سوله ایزو فشارونو او ډیالوګ له لارې حل شي کوم چې یوې منظمې او ستراتیژیکې مبارزې ته اړتیا لري.

اکثره سیاسي ګوندونه دعوه لري چې ګواکې ملي تجار د دوئ لګښتونه ورکوي، تاسو خپل مصارف له کوم مدرکه ترلاسه کوئ؟

روهي: د اساسنامې له مخې زموږ د تمویل اصلي منبع زموږ د غړیتوب ونډې او بسپنې دي، خو ترڅنګ یې کله ناکله نور هېوادوال او افغان پانګوال هم مرسته کوي. موږ د ځانګړو فعالیتونو د تمویل لپاره، ځانګړي کمپاینونه کوو چې هم د محور غړي بسپنې کوي او هم د دوئ له لارې نور هېوادوال مرسته کوي. البته پر یوه خبره ټینګار کوم چې زموږ د اصولو له مخې د بهرنیو مرستو اخېستل هېڅ ډول جواز نه لري.

آیا ملي محور کومه منتخبه شورا لري، که د مشر هره فیصله د کاڼي کرښه ده؟

روهي: ملي محور کوم فرد محوره حرکت نه دی، بلکې مهمه ځانګړنه یې دا ده چې په مشرتابه کې یې ګڼ شمېر پیاوړي کدرونه او شخصیتونه حضور لري او ټولې مهمې پرېکړې له همدوئ سره د مشورې له لارې کېږي. موږ له لومړۍ ورځې هوډمن یو چې د موروثي رهبرۍ پرځای به د ډموکراتیکو اصولو پربنسټ د مشرتابه یوه پیاوړې او منتخبه رهبري رامنځته کوو. د اساسنامې له مخې ملي محور یوه مرکزي شورا، یوه لارښوده شورا او یوه اجرائیه شورا لري. د یو ځانګړي میکانیزم له مخې مسئولین ټاکل کېږي، پرېکړې کېږي او چارې پرمخ وړل کېږي. د ملي محور مشر یوازې دوه دورې د ګوند مشري کوي. د ملي محور اوسنی مشر او مرکزي شورا د ګوند په کنګره کې د پټو او ازادو رایو له لارې ټاکل شوي او راتلونکی مشرتوب به هم انتخابي وي.

له نن څخه لس کاله وروسته، ملي محور خپل ځان د افغانستان په سیاسي نقشې کې چیرته ګوري؟

روهي: زه چې د ملي محور اهدافو، تګلارې، د غړو ظرفیت، ژمنتیا او صداقت ته ګورم، نو هیله مې دا ده چې لس کاله وروسته به ملي محور، که په واکمنۍ کې وي یا نه وي خو د افغان ولس د هیلو، ارادې او ملي ګټو تر ټولو ډاډمن سنګر به وي. ان شاء الله، له کلک هوډ او منظمې ستراتیژیکې مبارزې سره به موږ وتوانیږو د ملي یووالي محور وګرځو. پرخپلو ګرانو هېوادوالو او ځانګړې توګه روڼ آندو افغانانو غږ کوم چې که غواړئ خپله راتلونکې په یو آزاد، سوله ییز، پرمختللي او سرلوړي افغانستان کې ووینئ، نو دا یوازې په خبرو، نیوکو، شکایتونو او حتی تحلیلونو نه کېږي. بلکې موږ باید د بې تفاوتۍ، بې مسئولیتۍ او ځانځانۍ له فرهنګ څخه راووځو او د سوله ییزې او متشکلې مبارزې له


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولـئ

لارې خپل ملي مسئولیت ترسره کړو. د افغانستان ستونزه ډېره پېچلې، ژوره او ګڼ اړخیزه ده، زموږ پرمخ اوږد مزل پروت دی او تر منزله رسېدل پیاوړي هوډ، پراخې حوصلې او ژور تدبیر ته اړتیا لري.
د یادونې ده چې (۵۷) کلن ډاکټر خوشحال روهي د هیواد د منلي ښیرونکي او لیکوال، محمد صدیق روهي زوی او د خوست په ولایت کې زیږیدلی دی. په (۱۳۷۱) لمریز کال کې د کابل له طبي پوهنتون څخه فارغ شوی؛ واده یې کړی او د (۳) اولادونو پلار دی.
-----------------------------------------
پاملرنه: که لوستونکي وخت او علاقه لري، نو کولای شي د ملکزي نورې لیکنې او ښیرنې د هغه په فیسبوک، لنکد ان او د یوټیوب په چینل کې ولولي او وګوري؛ ادرس یې دا دی: Wali Malakzay

د لیکوال نورې لیکن لیکنې په دی لینک کی ولولئ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ